مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۱/۰۲

# د اوهامو څلور لار کې

نن د حــــــــــالاتو له ناخــوالو ژړیدلی یمــــه
د زمـــانـــی لـــه بی دردانـــو کــړیـــدلی یمـه

هغه پتنــــــګ یم چې له کـــور او له دیاره لری
چې د بیلتون په سرولمـــــــــبو کې سوځیدلی یمه

خلاص می له لومی د وسواس کړه لیونتوبه راشه
چې څلـــــــــــور لار کې د اوهامو دریدلی یمه

زه هغه پانه په چمـــــــــــن د ارمانـــو کې یمه
چې د خزان د راتلو مخـــــــــکی غورځیدلی یمه

ما نه پوښتنه زمــــــــا د حال او د احوال مه کوه
زه د خـــپل قام په درد و غم کې کړیدلی یـــــمه

که په حضـــور کې می غلیم شرم و حیا نـــه کوی
ځـــــــــــکه چې زه له پښــتنی برمه لویدلی یمه

خلاصـــــه لا نه وي، یو غـوټی د ارمـانـونو زما
چې په ګلـــشن د ارمــــــــانو کې، رژیـدلی یمه

سید عبیدالله نادر
کال ۱۳۷۸


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ